مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند
۲۰۲۳/۰۹/۲۳

# لنډۍ، د ښتولو ستونزه

## دوه‌سوه‌نولسمه برخه

لړواپه سد شه، ځان خبر کړه
یار قاچاقبر پیدا کوي وطن پرېږدینه

بېروزګاري توره بلا ده
له بېکارۍ نه هلک رووړ په بنګو شینه

ځوانان خو دلي ـ دلي لاړل
په بنګو رووړ لالی به کوم وطن ته ځینه

د لنډیو په دې برخه کې دغه لنډۍ درنو لوستونکو ته وړاندې کېږي:

علم کوه پسي بلبل شه
په شان د ګل شه، چې هرڅوک دې بویوینه

ته خو اوس لاړې د بل چا شوې
یار دې رنځور شو ترخولې وینې غورځوینه

لړواپه سد شه، ځان خبر کړه
یار قاچاقبر پیدا کوي وطن پرېږدینه

جینۍ خبره یې که نه یې
پرتا مین له مجبورۍ وطن پرېږدینه

مینه دې وکړه پام دې نه و
بیلتون دې نه لیده چې غرونه ړنګوینه

لیوني سپي رانه چاپېردي
نرۍ په غتو ورته ګوري موږ ترې خورینه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

بېروزګاري توره بلا ده
له بېکارۍ نه هلک روږد په بنګو شينه

ځوانان خو ډلي ـ ډلي لاړل
په بنګو روږد لالی به کوم وطن ته ځينه

ستا په پټي دې ږلی وشي
زه به تر څو د دادا کور کې ناسته يمه

داد مې زه پکې واده کړم
په داسې خلکو څوک غوايه نه څروينه

په پاچاهۍ دې ډزې وشه
د مکتبونو جونې کور کې ناستې دينه

زما د حال پوښتنه مکړه
دواړه څنګلي غبرګوم، سر ته يې ږدمه

له ما نه، نه شي هرڅه لاړل
لکه بې سيله مرغۍ ګوښې ناسته يمه

ها پخواني وختونه نشته
لکه بې سيله مرغۍ ګوښې ناسته يمه

يا به زما پر سترګو ګرد وي
يا به کړکي ته طالبان راغلي وينه

چې خدای ليکلي، هغه کېږي
هرمازديګر په زيارتو مکړه سوالونه

پر اس راغلی، پر اس ولاړل
له خلکويی غلا کړل په مليارډو ډالرونه

وطن يې تول فساد، فساد کړ
ځانته يې جوړ کړل هريوه شاهی قصرونه

نصيبه وچ کوهي ته پرېوځې
چې ته راخېږې، زه به لرې تللی يمه

زما ډارن لالي ته وايه
زما په سر به دې څوک نه حلالوينه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ